سلسله
کتنمان‌های
رئیس جمهور

لومړی بحث

ملي هويت فرهنګ تاريخ



تاریخ، فرهنگ و هویت ملی

د جمهور رئیس د بحثونو لړۍ

۱

زمور تمرکز به پر داسي بنسټونو اینښودلو وي چې ببرته د ستنېدو ور نه وي. په دې معنی، که افغانستان یو ځل د برښنا د لېږد، نل لیکې، نوري فایبر شبکې، لویو لارو او ریل پټلۍ له طریقه سیمې سره وصل شي، نو دا ځل ببرته په شا نه شي تللی. که مو په راتلونکو ځلورو کالو کې د افغانستان د سیندونو اتیا سلنه اوبه مدیریت کړې، بیا به دا اړتیا نه وي چې هر څه ببرته له سره پیل کړئ.

اداره ارتباطات عامه و استراتیژیک ریاست جمهوری

ISBN 978-9936-1-0456-3

Download from:aghalibrary.com

له ځوانانو سره د جمهور رئیس د بحثونو لړۍ

(لومړی بحث)

تاریخ، فرهنگ، ملي هویت

چهارچنار ماښی، ارګ
(۱۳۹۸)



کتاب پېژندنه

تاریخ فرهنگ او ملي هویت

له ځوانانو سره د جمهور رئیس د بحثونو لړۍ

(لومړی بحث)

ISBN ۹۷۸-۹۹۳٦-۱ – ۰٤٥٦-۳

نېټه او ځای

جدي ۱۳۹۸، چهارچنار مانې

اهتمام، پښتو ژباړه او سمونه

میراحمد یاد

ویراستار دری

شیرآقا شایان فریور

ناشر

اداره ارتباطات عامه و استراتیژیک ریاست جمهوری

صاحب امتیاز

ریاست مطبوعات

سال چاپ

۱۳۹۹هـ.ش ـ ۲۰۲۱ م

تیراژ

۲۰۰۰ جلد

طرح جلد

سید محمد حسینی

صفحه آرا

سپین سهار

فهرست

مقدمه ٨
هدف او وسیله ١٠
هدف مو څه دی؟ ١١
وسیله څه ده؟ ١١
لارې چارې او طریقې ١٢
له تاسې مې پوښتنه څه ده؟ ١٢
(١) ١٤
جیولوژي مو څه وایي؟ ١٤
خاوره، اوبه او ځنګلونه ١٧
پایله ١٨
(٢) ٢٠
زمورِ جغرافیه ٢٠
(٣) ٢٣
کرنه او مالداري ٢٣
(۴) ٢٦
ترانزیټ او سوداګري ٢٦
د ګټې اخیستو طریقه په څه معنی؟ ٢٧
(۵) ٣١

زمور فرهنگي شتمني ٣١
لرغونپوهنه ٣٢
ژبپوهنه ٣٣
ادبیات ٣٤
تاریخ ٣٦
(٦) ٤٠
زمور سیاسي شتمني ٤٠
انساني شتمني ٤٤
پوښتنې او ځوبونه ٤٥
د بحث پای ٦٠
مقدمه ٦٧
هدف و وسیله ٦٩
هدف ما چیست ؟ ٧٠
وسیله چیست؟ ٧٠
شیوه ها و طریقه ها ٧١
پرسش من از شما چیست؟ ٧١
(١) ٧٣
جیولوژی ما به ما چه می گوید؟ ٧٣
آب، خاک و جنگلات ٧٦
نتیجه گیری ٧٧
(٢) ٧٩

جغرافیای ما ۷۹
(۳) ۸۲
زراعت و مالداری ۸۲
(٤) ۸۵
ترانزیت و تجارت ۸۵
(۵) ۹۱
سرمایهٔ فرهنگی ما ۹۱
باستان شناسی ۹۲
زبان شناسی ۹۳
ادبیات ۹٤
تاریخ ۹٦
(٦) ۱۰۰
سرمایهٔ سیاسی ۱۰۰
سرمایه انسانی ۱۰٤
پرسش و پاسخ ۱۰۵
سخن آخر ۱۲۱
البوم ۱۲۹

مقدمه

درنو محصلینو، خوښدو، ورونو، د پوهنتون قدرمنو استادانو او درنو لوستونکو، له هر څه وړاندې تاسې ته د بشریت د رهبر ډالۍ وړاندې کوم.

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

زما خبرې په شپږو برخو کې دي. زه په دې هیله یم چې زمونږ په ځوان او لوستي نسل کې دغه بحثونه رواج شي او مونږ د همدې بحثونو په وسیله د ملي تفاهم او ګران هیواد د بیارغونې ښې پایلې ترلاسه کړو.

اصلي بحث ته له ورتګ وړاندې د مقدمې په توګه یو څو ټکي وړاندې کوم.

هدف او وسیله

هدف مو څه دی؟

د دغو بحثونو هدف دا دی چې زموږ د شتمنیو په اړه علمي پوهه دولت او ولس ته په عام فهمه او داسې ژبه انتقال شي چې هغوی پرې وپوهېږي. عرض مې دا دی چې موږ د ملت په توګه د خپلو شتمنیو په اړه علمي پوهه او درک نه لرو او تر څو چې دغه درک په ځرګند، علمي او مشخص ډول رامنځته نه شي، زموږ برنامې، د بحثونو بڼې، توقعات او د مسوولیتونو له مخې زموږ خپله وندې په اساسي ډول نه را ځرګندېږي. په دې خاطر مې د خپل هیواد معتبرو پوهنتونونو محصلینو، استادانو او ژمن ځوان نسل سره دغه بحث پیل کړ، زما په نظر دا بحث د افغانستان لپاره ډېر ارزښتمن دی.

زموږ د ملي هویت د پېژندنې او ځلوونې کار یوازې د ادیبانو، ژبپوهانو او تاریخپوهانو کار نه دی، بلکې دا زموږ د ټولو افغانانو ګډ مسوولیت دی، نو له دې امله باید د افغانستان نوی نسل په خپل ملي هویت ښه پوه شي او د همدې په رڼا کې خپل راتلونکی انځور کړي.

وسیله څه ده؟

د افغانستان د ملي هویت رامنځته کولو وسیله د دارالامان ماڼۍ ده. دا ماڼۍ پخپله ماهیت نه لري، ځکه یوازې یوه ودانۍ ده، خو له تاسې دا تمه لرم چې په افغانستان کې د یوه ملي بحث په را پیلولو دغه ماڼۍ د ملي هویت په سمبول بدله کړئ.

لارې چارې او طریقې

د تر ټولو ښو لارو چارو او نوښتونو د تشخیص لپاره باید یو ملي بحث طرح او پیل شي. تاسې باید د بحثونو د دغه لړۍ د اداره کولو مسوولیت واخلئ.

هر نمایش یوه کیسه او روایت غواړي. تاسې به د دې نمایش لپاره کوم روایت رامنځته کوئ؟

خو د کیسې تر رامنځته کولو دا ډېره مهمه ده چې دغه کیسه او روایت به نورو ته څنګه رسوئ؟ مثلاً که د دې کار لپاره تاسې په کابل کې یو موزیم جوړ کړئ، نو دا موزیم به یوازې تر کابله محدود وي، خو مهمه دا ده چې دغه موزیم به د ټکنالوجۍ په مرسته هر ښوونځي، هر کلي او هر جومات ته څنګه رسوئ؟ دا په دې خاطر وایم، که موږ په دې برخه کې پانګوونه کوو، نو د دې پانګوونې ګټه او نتیجه باید ټول افغانستان ووینې.

نو ستاسې وندې یوازې نمایشي نه ده، ستاسې اساسي دنده دا ده چې یو ملي روایت نورو ته ورسوئ، دا هم ستاسې مسوولیت دی چې دغه ملي روایت به څنګه سره منسجموئ.

له تاسې مې پوښتنه څه ده؟

زموږ له تېر، اوس او راتلونکي نه، ستاسې د ځوان نسل روایت څه دی؟

له تاسې ولې دا پوښتنه کوم؟ ځکه زه په دې نظر یم چې تاسې به ان شاء الله د افغانستان د معاصر تاریخ ستر نسل یئ. تاسې به هغه نسل

یئ چې افغانستان به له بې ثباتۍ نه ثبات ته؛ له بې بېوزلۍ نه بډاینې ته؛ له انزوا نه ارتباطاتو ته؛ او له ګډوډۍ او انارشۍ نه یوه باثباته جمهوري نظام ته وړئ.

خو اوس پوښتنه دا ده چې تاسې د دې کار هوډ او ظرفیت لرئ که نه؟ مور خو درنه روان یوو. زمور د نسل ستونزه دا ده چې عموماً لنډ فکر کوي او د ځلوښت کالو پر ځای د ځلوښتو ورځو غم خوري، خو تاسې اړ یئ چې د ځلوښتو او پنځوسو کالو فکر وکړئ او زه هیله لرم تاسې ځوان نسل به داسې یو بنسټ ږدئ چې د افغانستان راتلونکی نسل بیا د پنځو سوو کالو فکر وکړي.

په دې اړه به درته زه ځینې ښلګې ووایم، نور فکر پرې پخپله وکړئ او ځان ته یې تشریح کړئ. ما ډېره معلمي کړې او له دې ځایه (جمهوري ریاست نه) چې خلاص شم، ښېرته خپل ټولګي او معلمۍ ته ور ګرځم، په دې خاطر تاسې ځوانانو سره آزاد بحث کوم. زه یوازې دغه بحث پیلوم او دا بحث درسره د جمهور رئیس او چارواکي په توګه نه کوم، بلکې د یوه استاد په توګه کوم او له دې امله دا بحث له یوه عجیب ځای نه هم پیلوم.

(١)

جيولوژي مو څه وايي؟

تاسې ځوان نسل د افغانستان په جیولوژۍ پوهېدلي یئ؟ زما ښه یادېږي چې د لیسې په دوره کې به شاګردان د جیولوژۍ له ساعته تښتېدل... اوس هم تښتئ، که حالات ښه شوي دي؟

پیل مې له جیولوژۍ ولې وکړ؟ دا خپل دلیل لري! له نن نه شپږ سوه میلیونه کاله مخکې یوه پېښه وشوه او هغې پېښې ستاسې راتلونکی وټاکه. په شمېر کې غلط شوی نه یم، پوره شپږ سوه میلیونه کاله مخکې یادوم!

له نن نه شپږ تر شپږ نیم سوه میلیونه کاله مخکې افغانستان نه و او د اوسني افغانستان شمال او جنوب دواړه جلا جلا لویې وچې وې. کابل یوازې پروت ټاپو و او د هند نیمې وچې سره یې هېڅ ډول اړیکه نه درلوده. بیا د دغو دوو لویو وچو د یوه قوي ټکر له امله د هندوکش غرونه رامنځته شول او دویم ټکر یې مور د هند له نیمې وچې سره ونښلولو.

پایله یې څه شوه؟

یوه پایله یې دا شوه چې ستاسې په خاوره افغانستان د نړۍ مهم کانونه رامنځته شول.

اوس که مور په خپلې جیولوژۍ سم پوه شوو، نو په نړۍ کې به د مسو او اوسپنې ستر تولیدوونکي او د نړۍ په کچه د سرو زرو، لاجوردو او نورو قیمتي کانو ستر لوبغاړي شوو.

تاسې په دې پوهېږئ چې تر ټولو لویه شتمني مو لیتیم ده؟ د

راتلونکې نړۍ د برښنایي موټرو برخلیک په تاسې او دې پورې اړه لري چې تاسې خپل لیتیم څنګه استخراج او مدیریت کوئ؟

د مندلیف په جدول کې اوولس نادره عناصر راغلي او څوارلس یې ستاسې په افغانستان کې دي، خو تاسې دومره پوهه لرئ چې دغه ستره شتمني پرې مدیریت کړئ؟ آیا تاسې هغو تخصصي رشتو خپلولو ته چمتو یئ چې دغه شتمني په اساسي ډول نه یوازې د نن او سبا، بلکې د راتلونکو نسلونو لپاره مدیریت کړي؟

نو تمه مې درنه دا ده چې دغه شتمني خپلو خلکو ته وښیئ. لومړی یې خپله ښه وپېژنئ، خپله پرې ځان ښه پوه کړئ او بیا یې خپلو خلکو ته وښیئ او هغوی پرې پوه کړئ. افغان ماشوم باید تاسې وهڅوئ او دا انګېزه ورکړئ چې ښه جیولوژیست او ښه مدیر شي. هغوی باید پر دې پوه شي چې په کانونو (معدنیاتو) کې قانونمندي ولې مهمه ده او ناقانونه کیندنې څه زیانونه لري. دا درته ځکه وایم چې نړیوالو تجربو دا خبره ثابته کړې ده. دوه بېلګې یې درته راوړم: کانګو د کانونو او معدنیاتو له پلوه د نړۍ په غني هیوادونو کې راځي، خو په عین حال کې د نړۍ فقیر او زمور په شان جنګ ځپلی هیواد دی؛ برعکس ناروې هیواد بیا دا وړتیا لري چې خپله طبیعي شتمني د راتلونکو نسلونو لپاره مدیریت کوي.

بل مهم ټکی زمور ګاز او نفت باید مدیریت شي. ښه زیری دا دی چې په لومړي ځل افغانستان کې د یوه کوهي (څاه) د ګازو مقدار له یو تریلیون متره مکعبه اوړي. پخوا مو یوازې څو میلیارد متر مکعبه درلود،

خو اوس ان شاء الله سلګونه میلیارده متره مکعبه ګاز په تثبیتېدو دی. خو اوس پوښتنه دا ده چې دا ګاز یوازې په شبرغان کې پاتې کېږي او که کاپیسا، هرات او هلمند هم له دغه سترې شتمنۍ برخمنېږي؟ که تاسې سره د انرژۍ او تودوخې غم وي، نو په دې باید پوه شئ چې دغه ګازونه څنګه مدیریت کړئ.

د ګازو خبره مې وکړه، خو تر ګازو یو بل مهم، آسان او دستي اړین شی د افغانستان خاوره ده.

خاوره، اوبه او ځنګلونه

مورِ تر اوسه خپله څو سلنه خاوره تحلیل کړې ده؟ ټول وایئ چې د کورونو شاوخوا کوهیانو اوبه مو کمې شوي او کوهیان ژور شوي دي، د دې په دلیل پوهېږئ؟ خاوره په یو دم نه کښي. څومره چې اوبه ښکته کېږي، هغومره ورسره خاوره بدلېږي، نو که تاسې جیولوژي زده کړه، لومړی به په دې پوه شئ چې په خپله خاوره څو منزله ودانۍ ته اجازه ورکولای شئ؟

تر څو چې مورِ د ځمکې لاندې اوبو باندې پوه نه شوو او داسې ژورې څاګانې کېندو، نو پایلې به یې ښې نه وي. که د ځمکې لاندې دا اوبه دوامدارې وي بیا هم ښه ده، خو که دوامدارې نه وي، نو پوه شئ چې کار خراب دی او راتلونکی نسل مو له اوبو محروم کړی دی. خاوره او اوبه به تاسې ته ډېر عادي شیان ښکاري، خو همدا ستاسې او د دې وطن د راتلونکي نسل د ژوند اساسي عناصر دي. په دې خاطر باید

تاسې له خپلې خاورې او اوبو یو علمي برداشت ولرئ.

زمونږ ډېر ځنګلونه له منځه تللي دي، دغه ځنګله باید بیا څنګه ورغېرې؟

خبره مو د ځمکې کوله، تاسې پوهېږئ چې افغانستان د زلزلو مرکز دی او پغمان او سروبي دواړه د زلزلې ژور چاودونه (شکافونه) دي؟ د کابل څو سلنه ودانۍ د زلزلې پر وړاندې محاسبه او سنجول شوي دي؟ سره د دې چې زمونږ ډېرې ودانۍ د تاریخ په اوږدو کې د همدې زلزلو له امله نړېدلې دي.

د اوبو لګولو په اړه درسره وروسته غږ ږرم، خو دا پوښتنه درنه کوم چې له تاریخي پلوه، مونږ له خپلې جیولوژۍ څه ګټه اخیستې ده؟

په قبل التاریخ دوره کې، د آسیا تر ټولو ستر صنعتي ښارګوټي په عینک کې و. د عینک د مېسو کان د قبل التاریخ دورې تر ټولو ستر صنعتي مرکز و. مونږ دې ته ورته لسګونه کانونه کشف کړي وو، خو له بده مرغه ...!

پایله

د دې ټول بحث پایله څه شوه؟ پایله دا شوه چې جیولوژي جدي وګڼئ. دا ستاسې لپاره فرصت هم دی او محدودیت هم! اوس د دې اړتیا ده چې زمونږ نوی نسل د جیولوژۍ په اړه یو جلا لیدلوری ولري. په تېرو پېړیو کې مو له جیولوژۍ د ګټې اخیستنې لپاره کافي وسایل نه درلودل، خو که په راتلونکو پنځوسو کالو کې تاسې په جیولوژۍ

سم پوه شوئ، نو دا ستاسې د ټولو ژوند بدلوي.

ښېګڼه څه ده؟ ښېګڼه دا ده چې الله تعالی ﷻ افغانستان ته يو ستر نعمت ورکړی دی. زياتره هيوادونه چې جيولوژيکي شتمني لري، سرچينې يې ټولې په يوه سيمه کې وي، مثلاً د عراق تېل وګورئ، ټول په مشخصه سيمه کې دي او په عراق کې د طبيعي زېرمو ټولې شخړې په همدې موضوع را پورته شوي دي، خو دا د شکر ځای دی چې د افغانستان طبيعي سرچينې په مساويانه ډول وېشل شوي او داسې هېڅ سيمه مو نشته چې ستره طبيعي شتمني ونه لري. ستاسې لس محروم ولايتونه، د نړۍ غوره طبيعي سرچينې لري.

نو بيا هم درته وايم، که په جيولوژۍ سم پوه شوئ، نو دا ټولنيزه، مالي او سياسي شتمني په ډېر عادلانه ډول رامنځته کولای شي. پر مورِ خدای ﷻ لويه لورينه کړې ده، خو آيا تاسې د دې وطن د تاريخ جوړوونکي نسل په توګه دا فرصت رامنځته کولای شئ چې له دې شتمنيو ګټه واخلئ؟!

(۲)

زمورِ جغرافیه

په ښوونځي کې به مو جغرافیه په یادو یادوله، د جغرافیې په تاریخي وندې او ارزښت به مو هېڅ فکر نه کاوه.

زمونږ جغرافیه کومې ځانګړنې لري؟

یو څو به یې درته زه ووایم، په نورو تاسې خپله فکر وکړئ.

مونږ تل ویلي چې د آسیا په زړه کې مېشت یوو، دا خبره څه معنی؟ مونږ له پنځو تر پنځوس زره کاله مخکې پورې ارتباطي سیمه وو، ځکه د افغانستان جغرافیایي ځانګړتیا همداسې ده. دلته غرونه، سیندونه، درې او خصوصاً دښتې په زنځیري ډول سره تړل شوې دي. داسې نه ده لکه د چین چې پراخه وچې دښتې وې، بیا شنې سیمې یا د غرونو لړۍ وي. دلته چې په کومو سیمو کې تولید کېږي، هغه سیمې سره لګېدلې دي. په دې خاطر زمونږ خاوره پخوا د سوداګرۍ زانګو وه. ستاسې د هر یوه په وینه کې سوداګري بهېږي. تاسې د سوداګرۍ پنځه زره کلن تاریخ لرئ، نو ځان په دې مه تېرباسئ چې یوازې په دولتي کار او دنده کې بوخت شئ. تاسې ډوډۍ ګټله، د ټولې نړۍ د ارتباط نقطه وئ، د دې وطن ښځه او نر سوداګر وو. مونږ دوه نیم زره کاله پخوا سوداګرې ښځې درلودې. په بودایي دوره کې د کاروبار ډېره برخه بانکدارانې ښځې وې. په دې اړه تاریخي اسناد لرو.

دا ټول څه معنی؟ معنی دا چې په دې جغرافیه کې د ژوند درېیو برخو په خپلو کې زنځیري اړیکه درلوده:

۱) ښار

۲) اوبه

۳) کرنه (زراعت)

تر کومه ځایه چې تاریخ شته، دا ترې څرګنده ده چې مور ښارونه درلودل. افغانستان ته د اسلام مبین دین له راتګه مخکې ستاسې تر ټولو لوی ښار په اوسني بلخ کې و. بلخ یوازې یوه خاطر نه ده، بلکې دا د کاروبار او سوداګرۍ یو لوی مرکز و. عربانو چې د دې ښار برم او لرغونتوب ولید، ام البلاد (د ښارونو مور) یې ونوماوه، سره د دې چې په هغه وخت کې لا بلخ خپل پخوانی شان و شوکت نه درلود او مخ پر زوال شوی و.

د ښار درلودو لپاره څه شي ته اړتیا ده؟

ډوډۍ ته! هو، ډوډۍ چې په کې نه وي، هېڅ ښار نه آبادېږي.

له ښه مرغه د افغانستان هر ښار د یوه سیند پر غاړه آباد شوی او د افغانستان هر ښار لویه کرنیزه حوزه وه. قوي اټکل دا دی چې غنم په لومړي ځل بلخ کې اوړه (ژرنده) شوي او دا قوي ګمان هم کېږي چې ډوډۍ هم په لومړي ځل بلخ کې پخه شوې وي.

(۳)

کرنه او مالداري

پخوا خلکو بې غوښې ژوند نه شو کولای. په اوسنیو شرایطو کې موږ د خپل ژوند یو مهم اړخ هېر کړی دی، دا اړخ د دې خاورې کوچیان دي چې زموږ د سوداګرۍ او تجارت اساسي محور و.

د جغرافیایي موقعیت له مخې مو په تاریخ کې درې شیان په خاص ډول ځلېدلي دي:

۱) ***اوښ***

۲) ***آس***

۳) ***غنم***

اوښ تر نولسمې پېړۍ د سیمې او نړۍ لارۍ او اورګاډي و، آس د هغه وخت ټانک و او د غنمو په اړه خو مې درته مخکې وویل چې بې ډوډۍ ښارونه نه آبادېدل.

تاسې پوهېږئ؟ یوازې آقچې په کال کې هند او چین ته لسګونه زره آسونه صادرول. زموږ د سوداګرۍ تاریخ په اوښ او آس پورې تړلی دی.

دا ټول څه معنی؟ معنی دا چې تاسې یوازې د آسیا زړه نه وئ، بلکې د آسیا څلورلارې هم وئ، ځکه افغانستان د مرکزي و جنوبي آسیا او ختیځ و لوېدیځ د وصل لاره وه.

نو تاسې خپله د نولسمې پېړۍ انزوا او د شلمې پېړۍ فاجعه هېره کړئ او څلوېښت یا لږ تر لږه پنځه ویشت پېړۍ پخواني حالت ته مو وګورئ.

د افغانستان موقعیت یې تر کانونو څو چنده مهم دی او د یوې سترې شتمنۍ حیثیت لري، ځکه دا خاوره د وصل او نښلوونې ټکی دی. نن چې دا کوم سوداګریز دهلیزونه جوړ شوي، دا له آسمانه نه دي راښکته شوي، اوس هوایي دهلیزونه جوړ شوي دي، خو پخوا مو هم یوازې ځمکنی سوداګریز دهلیز یوازې د وربښمو لار نه وه، مور د لاجوردو لارې سربېره نورې لارې هم درلودې. د بدخشان له واخانه نیولې، تر کلفت بندر پورې، د افغانستان هر ښار چې ګورئ په یوې سوداګریزې څلورلارې آباد شوی دی. نو دې ټولو ته په کتو اوس د خپلو غرونو، سیندونو او څرګایونو په ارزښت پوه شئ.

ستاسې ټول څرګایونه په وبجارېدو دي، دا درته ولې وایم؟ ځکه چې سوله ان شاء الله راتلونکې ده او یو وار چې سوله او آرامي شوه، نو میلیونونه سیلانیان به مو لیدو ته له خیره راځي. نو تاسې دا مسوولیت لرئ چې خپله دغه ستره شتمني وساتئ او ضایع کېدو ته یې پرې نه ږدئ.

د کابل غرونه مو هره ورځ غاصبین درنه غلا کوي، سبا به مو راتلونکی نسل چېرته ژوند کوي؟

(۴)

ترانزیت او سوداگري

له تاریخي پلوه بل مهم ټکی څه دی؟ تاسې که په الوتکه کې سفر کوئ، نو د افغانستان په جغرافیایي ارزښت سم نه شئ پوهېدی. هند ته تر نولسمې پېړۍ پورې، په کال کې یوازې یو څو میاشتې د اوبو له لارې تګ راتګ کېده او نور ټول کال یې د تګ راتګ لاره په افغانستان وه. په همدې خاطر افغانستان تل د هند د دروازې په نامه یاد شوی دی. نن چې مور بیا ځان د آسیا د څلورلاې په حیث وینوو، نو د پاکستان او هند د دروازې په حیث یې وینوو. دغه موقعیت دربانديې الله تعالی ﷻ پیرزو کړی، خو له دې د ګټې اخیستو طریقه په تاسې پورې اړه لري.

د ګټې اخیستو طریقه په څه معنی؟

دا چې مور څو اصلي ګمرکونه لرو؟ ترانسپورټ څنګه مدیریت کوو؟ د نورې فایبر شبکه څنګه فعالوو؟ بېلابېل ارتباطات سره څنګه تنظیموو؟ دا ټول نښه فکرونه دي. تاسې باید په دې پوه شئ چې هم د آسیا زړه یئ او هم د آسیا څلورلارې، خو ستونزه دا ده چې په دې برخه کې کافي پرمختګ نه دی شوی. نو تاسې باید داسې علمي رشتې زده کړئ چې دغه پرمختګ ممکن کړي.

د رشتو دغه اړتیا څه غواړي؟ دا غواړي چې په لومړي قدم کې باید تاسې خپل جغرافیایي ګاونډیان وپېژنئ. د ژوند چاپېریال پوله نه لري. که زلزله راځي، نو د افغانستان، هندوستان، پاکستان، ازبکستان او تاجکستان ترمنځ توپیر نه کوي. د ژوند چاپېریال باید د یوه سیستم په توګه وپېژنو، دا باید سره وصل سیستم وي، نه شیندل

شوي شیان چې اوس پرې د ژوند په چاپېریال کې سره سیالي کېږي. د ژوند چاپېریال کې د سیالۍ ځای نشته، یا به ټول انسانان ختمېږي یا به ټول خپل راتلونکی ساتو.

بیا هم تاریخ او جیولوژي دا ټاکي چې کوم شیان چېرته رامنځته شوي او چېرته رامنځته کېدای شي او مورِ دا ټول شیان سره څنګه نښلولی شوو.

اوس درسره د نمایش او نندارې یو څو خبرې کوم.

دا چې نن سبا زیاتره ګټورې نندارې او نمایشونه په ټکنالوجۍ پورې اړه لري، نو په دې خاطر له ۳D (درې اړخیزه) ګرافیک سره ځان بلد کړئ، ځکه دا مهم دی. مورِ یوازې د آی خانم یو درې اړخیزه نمایش درلود او دا په واشنګټن کې د یوه نندارتون لپاره چتمو شوی و. تاسې باید افغان ماشوم ته انګېزه ورکړئ. څوک چې په ټکنالوجۍ او د فلم په ترتیب کې کار کوي، زه ورته دا وړاندیز کوم چې نندارې (نمایشګاه) ته دې هم پام وکړي، خو د درې اړخیزو ۳D فلمونو جوړولو ډېره هڅه دې وکړي.

تاسې آی خانم ته وګورئ، دا په آسیا کې د یوناني دورې یو نادره ښار دی. له ترکیې پرته په نوره آسیا کې داسې ښار نشته. لومړی چهلستون (چهلستون مانۍ) په آی خانم کې وه. همدارنګه یې پوهنتون او جمنازیم هم درلودل. زمورِ هیواد کې د یونانیانو په دوره کې تر دوو سوو کالو د سقراط مجسمه په آی خانم کې وه.

خو تاسې باید دا عام فهمه کړئ او خلکو ته یې وښیئ. تاسې باید

بلخ، بامیان، عینک او همدارنګه نورې هغه تاریخي سیمې او ولایتونه خلکو ته نندارې ته وړاندې کړئ چې زمونږ جغرافیه څرګندوي. تاسې باید په دې پوه شئ چې یو فهرست څنګه د هویت په مفکورې بدل کړئ. څنګه خپل ښاري تاریخ، خپله سوداګري، د خپلو ښځو ونډه، د خپلو ارتباطاتو ونډه او خصوصاً څنګه خپل آس او خپل اوښ خلکو ته وښیئ او نندارې ته یې وړاندې کړئ.

د اوښ یادونه ولې کوم؟ ارزښت یې څه دی؟ یوه اوښ به په اوسط ډول تر شلو منو بار وړ. یوه کاروان د لارې خرڅ تر درېیو ورځو زیات نه شو وړلای، ځکه انتقال یې ګران تمامېده.

زیاتره به یې ورېښم، خوراکي توکي او لاجورد وړل، ځکه په دې کې ګټه ډېره وه. خو دا کار اوښ آسانه کاوه، ځکه سوداګرو به هم پرې خپل د اړتیا وړ خوارکي مواد او هم سوداګریز توکي انتقالول. نو زما د خبرې هدف دا و چې د دې وطن ټول خلک له درې زره کالو راهیسې سوداګرۍ سره بلد دي. په تاریخ کې یې پېر او پلور کړی دی. د افغانستان په شمال کې مو ورځني او اونیز بازارونه درلودل. د دوشنبې، چهارشنبې او پنجشنبې بازارونه اوس هم پاتې دي. د افغانستان په جنوب کې مو د کوچیانو قطارونه درلودل، دا ټول د راکړې ورکړې، کار او ارتباطاتو سلسله وه. جغرافیې له یوې خوا مورږ دې اړیکو ته مجبور کړي وو او له بلې خوا یو محدودیت هم و. محدودیت دا و چې د وسایلو د کمبود له امله لویو ښارونو رامنځته کېدل سخت وو، تر دې چې بالاخره لارې راغلې.

مثلاً د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې د افغانستان په شمال کې غنم من په یوه روپۍ وو، خو جنوب کې به د غنمو قحطي وه، ولې؟ ځکه چې د لېږد وسایل نه وو.

نو تاسې باید د فرصتونو او محدودیتونو رامنځته کېدو ته پام وکړئ. د مرکزي افغانستان بیارغوونه او د غرنیو سیمو پرانیسته ستاسې تاریخي رسالت دی. دا لارې باید بېرته پرانیستل او سره وصل شي.

بیا هم درته وایم چې جغرافیه هم فرصت دی او هم محدودیت. فرصت دا دی چې د نولسمې او شلمې پېړۍ له کوم ټرانسپورتي انقلابه افغانستان محروم پاتې شوی، هغه بیا رامنځته کوئ. په شته لارو د ریل ګاډي په وسیله د لېږد رالېږد، د برښنا، ګاز او نوري فابر شبکې د انتقال له درکه مو عایدات تر ګمرکونو څو چنده لوړېدی شي، خو محدودیت یې بیا دا دی چې دا ټول پانګه غواړي. ترپانګې مهم دا چې د مصرف موثریت، منسجم فکر او مدیریت غواړي. که تاسې خپل کانونه مدیریت کړئ، جغرافیه مو بدلولای شئ.

په لومړي ځل دا فرصت لرئ چې خپل جغرافیایي محدودیت بدل کړئ، خو پام ورسر په کار دی چې چاپېریال خراب نه کړئ.

(۵)

زمور فرهنگي شتمني

په دې برخه کې څو سره ترلې موضوعات راځي، زه به په یوه یوه وغږږم:

لرغونپوهنه

د هیواد پر لرغونپوهنې هېڅ پانګوونه نه ده شوې. دا څلوېښت کاله کېږي چې د افغانستان لرغونپوهنه هېره شوې ده. زمونږ د ملي هویت تر ټولو لویه نقطه یوه لرغونپوه (احمد علي کهزاد) پیدا کړې ده. همده کهزاد زمونږ تاریخي لرغونتوب دوه زره کال زیات کړ. اوس ستاسې کار دی چې زمونږ دغه تاریخي لرغونتوب کوم ځای ته رسوئ. لرغونپوهنه په بدلېدو ده. مونږ باید تېر وخت بیا له سره تعبیر کړو او داسې یې عام فهمه کړو چې ټول خلک پرې پوه شي. اوس د دې اړتیا ده چې ستاسې نسل په همکارۍ د سیمې لرغونپوهنه، د ارتباطاتو د وسیلې او د راتلونکي لپاره د تاریخي لید په توګه مطرح کړو.

مونږ ټول ولې نن سبا قوم قوم ډېر یادوو؟ آیا دوه زره کاله مخکې مونږ قومونه وو؟ یو نیم زر کاله مخکې څنګه؟ لږ یو څو ورځې، یو څو دقیقې په خپل تاریخ فکر وکړئ. د ویدونو په دوره کې چې (اوپانیشادونه) رامنځته کېدل، په هغه وخت کې مونږ څوک وو؟ په اوستیایي دوره کې څوک وو؟ په زرتشتي دوره کې څوک وو؟ په بودایي دوره کې څوک وو؟

زمونږ هویت تل د بدلېدو په حال کې و، دا اوس چې تاسې په دې تېرو څلوېښتو کالو کې کوم هویتونه ګورئ، دې ته یو ځل د اوږدمهالي تاریخ له زاویې وګورئ! انسان له هویت سره هم نه دی زېږېدلی،

انسانان ځان ته پخپله هویتونه جوړوي او د افغانستان په هویت جوړولو کې لرغونپوهنه مهمه ونډه لري.

ژبپوهنه

زمور ژبې په مجموع کې زمور یوه مهمه فرهنګي شتمني ده. تاسې داسې کوم هیواد پېژنئ چې خلک یې ژبې دومره په آسانۍ زده کوي؟ خو افغانان هره بهرنۍ ژبه په ډېره آسانۍ زده کوي او لامل یې دا دی چې دوی تل په دوو یا درېیو ژبو غږېدلي دي. یعنې مور هېڅکله یوه ژبه نه ده لرلې. ژبه زمور د ارتباط وسیله ده، خو د ژبپوهنې د تاریخ له پلوه باید پوه شوو چې دا ژبې سره خپلو کې څه اړیکه لري. څلوېښت کاله مخکې د مورګن سټېنر په نوم یو کس و، په اتیا ژبو پوهېده، څلوېښت مړې ژبې او څلوېښت ژوندۍ، خو له بده مرغه د پښتو ریښه پېژندنه یې بشپړه نه کړه.

د ژبو د ارتباط بڼه باید په روښانه ډول ولیدل شي. له بشرپېژندنې دا یو مهم ټکی روښانه کېږي چې ژبه، نژاد او فرهنګ درې جلا جلا څیزونه دي. ژبه له نژاد سره هېڅ اړیکه نه لري. دا تاسې چې د نژاد پېژندنې کومې تیورۍ لوستي او اوربدلي، دا ټولې په نازي دوره کې پیدا شوي. مور ببل نژادونه نه یوو. ورشئ وګورئ، د وینې او لیاړو په یوه ساده معاینه هر څه روښانه کېږي.

مور په دې جغرافیه کې د ټولو خلکو د وصل او پیوند ټکی وو. مثلاً تاسې وګورئ په دې پنځو زره کالو کې، په دې وطن کې ټولو خلکو

ودونه کړي دي، تاسې ورشئ له خپلو مشرانو پوښتنه وکړئ چې په کورنیو کې د خپلوی او واده لپاره د ژبې او نژاد موضوع د یوې ستونزې په توګه مطرح وه؟

نو ژبه د زده‌کړې وسیله ده. هر افغان چې وغواړي، بله ژبه په ډېره آسانۍ زده کولای شي. که مورږ په پښتو غږېږو، که دري، که ازبکي، ترکمني، نورستاني، پشه یي یا بلوچي... دا هره ژبه ستاسې یو قوت دی، د انسانانو له یوې لویې ډلې او یو بل فرهنګ سره ستاسې د افهام او تفهیم یوه وسیله ده. نن چې مورږ د اوزبېکي او ترکمني دومره لویه زېرمه لرو، آیا په همدې مو له مرکزي آسیا سره اړیکې نه دي رامنځته کړي؟

پښتو ژبه پنځوس میلیونه ویونکي لري او نورې ژبې هم همدومره یا کم و زیات ویونکي لري. نو تاسې باید ټولې ژبې د افهام او تفهیم وسیله وګڼئ او رسالت مو دا دی چې تاسې د دې ژبو ویوونکو ته دا اطمینان ورکولای شئ چې دا خاوره د ټولو شته ژبو او ټولو اوسېدونکو ده؟

اوس باید د ژبو نوع پرېږدئ او تنوع یې تشریح کړئ او په خپلو منځونو کې د ژبو اړیکې سره پیدا کړئ.

ادبیات

افغانسان د دري ژبې زانګو ده. ایران پهلوي ژبی هیواد و. د دري ژبې ټول ادبیات مورږ خلق کړي دي، اوس هغوی دعوه کوي او شرقي ایران یې بولي.

زمونږ پښتو او اوزبیکي دواړه ژبې د دري له فرهنګ سره ژور علایق لري. په تېرو دوو سوو کالو کې پښتو ادبیاتو د دري ژبې د زرو کالو ادبیات په ځان کې جذب کړي دي، اوزبیکي ادبیات هم همداسې در واخلئ.

امیر علي شیر نوایي چې په هرات کې کوم کار وکړ، نن په ازبکستان او منځنۍ آسیا کې کوم اوزبیکي ژبې د هغه کار له امله پر امیر علي شیر نوایي نه ویاړي؟ خو له بده مرغه تاسې نوایي هېر کړی دی، آیا له ادبیاتو سره ستاسې ملي چلند همدا دی؟ د اوزبیکي ژبې تر ټولو ستر شخصیت په هرات کې زېږېدلی او همدلته لوی شوی دی، ټول آثار یې په هرات کې لیکلي دي.

مورږ باید د ادبیاتو د تاریخ له زاویې، د ارتباطاتو بڼې ته بیا له سره کتنه وکړو. زمونږ تر ټولو ډېر سیاسي فرهنګ زمونږ په ادبیاتو کې دی. مثلاً د عدالت کلیمه. د عدالت کلیمه زمونږ د ملي ادبیاتو یو تر ټولو مهم بحث دی.

تاسې په دري ادبیاتو کې د شهنامې مهم اسطوره اي څېړې رستم او د هغه فرهنګي نقش ته وګورئ. دی د یوې کابلۍ ښځې (رودابې) زوی دی، پخپله د سیستان دی او پایتخت یې نیمروز دی. که وایئ نه، له بل ځایه راغلی؟

په شنهامه کې د ښځو ونډې ته وګورئ. د سهراب مور تهمینه د سمنګان ده. د افراسیاب د لور منیژې ژوند ته وګورئ. تاسې څه فکر

کوئ چې افغانه ښځه د بل په واک کې وه، که د خپل واده او ګډ ژوند پربکړه یې پخپله کوله؟

په هغه وخت کې څو افغانې ښځې ملکې وې او پوځونه یې رهبري کول؟

مورږ باید د ښځو تاریخ ته د ادبیاتو د تاریخ له زاویې بیا له سره کتنه وکړو. زمورږ د ادبیاتو تاریخ نرمحوره نه دی، د ښځو تاریخ دې شلمې پېړۍ بدل کړی دی.

تاسې زمورږ د اتلو ځوانانو نقش وګورئ:

د فردوسي له شنهامې لیکلو کلونه مخکې دقیقي په بلخ کې د شهنامه لیکونکو یوه ډله درلوده. زه د د نورو مخالفت نه کوم، خو موخه مې دا ده چې مورږ خپل فرهنګي ویاړونه وپېژنو او بېرته یې له سره اصلاح کړو. نور هم د خپلو ویاړونو د یادولو حق لري، ځکه دري بین المللي ژبه وه. خو تاسې باید پوه شئ چې په دې ویاړونو کې ستاسې ونډه اساسي او مرکزي وه، دویمه درجه نه وه. تاسې باید د خپلې ژبې په فکري زېربنا او مهمو کلیمو د پوهېدو لپاره، لومړی په خپلو ادبیاتو پوه شئ.

تاریخ

په تاریخ پوهېدو ته څه اړتیا ده؟ تاریخ کیسه نه ده! ابن خلدون ویلي وو چې تاریخ عبرت دی. اسلامي تاریخ لیکنه دا ویاړ لري چې د ټولنپوهنې او بشرپېژندنې له پیله، شپږه سوه کاله وړاندې یې په دې

ټولو برخو کې تحلیل درلود. د تاریخ ارزښت دا نه دی چې پېښې زده کړه، ارزښت یې دا دی چې تکراري لړۍ پرې کړئ. ځینې فجایع ولې بیا بیا تکرارېږي او ځینې ویاړونه ولې بیا بیا نوي کېږي؟ د دې ځواب ژور درک غواړي. مثلاً زر کاله مخکې بېهقي د سلطان مسعود په اړه خپل تاریخ ولیکه. تاسې ښایي تر دې عبرتناکه داستان په ټوله نړۍ کې پیدا نه کړئ. ځکه دا ښیي یو پاچا دومره قوي وو چې داړونکی زمری به یې په خپلو لاسو واژه، د تدبیر کمي یې ټوله امپراتوري وپرځوله.

د خپل تاریخ په ژورو پوه شئ چې خپل تېر وخت له راتلونکي سره ونښلوئ. په تاریخ له پوهېدو پرته، په خپل هویت پوهېدل امکان نه لري. نو په دې خاطر باید له یوې خوا په خپلو تاریخي پېښو ووياړو او له بلې خوا باید متوجه شوو چې بدې تاریخي پېښې او فاجعې تکرار نه کړو.

په افغانستان کې لا تاریخي پېښې، د تاریخ برخه نه دي شوي او تراوسه ژوندۍ دي. که پایداره سولې ته رسېدل غواړو، نو د تاریخ د بېلابېلو تفسیرونو له منلو پرته ورته رسېږو؟ ځکه دا ټول بالاخره یوې ګډې لارې ته ویستل د ژوند یوه اړتیا ده. دا کوم مسایل چې زموږ په تاریخ کې ریښه لري، آیا د دې مسایلو د منلو او پرې له پوهېدو پرته، سره ګډ ژوند کولای شوو؟

په دې تعبیرونو کې چې کوم کوچني او متوسط روایتونه رامنځته شوي دي، په هغوی پوهېدو لپاره باید ژور درک ولرو چې خپل تېر څلوېښت

کاله ووینو . پر خپلې تمدني وندې باید باید په اساسي ډول پوه شوو. وګورئ چې ستاسې د روښانتیا دوره کومه وه؟

فریدریک ستار[۱] په خپل کتاب کې د ابن سینا او البیروني یو بحث راوړی دی. د نړۍ ټول اساسي علوم د دې دواړو عالمانو په بحث کې ځای شوی دی. البیروني یوازینی کس و چې د امریکا له کشف څلور سوه کاله وړاندې یې د امریکا د موجودیت وړاندوینه کړې وه. د ابن سینا طبابت شپږ پېړۍ مروج و.

مور یو ځلاند اسلامي تمدن درلود، په دې باید پوه شوو او خصوصاً اوس باید پرې په داسې حال کې پوه شوو چې د افراطیت له خطر سره مخ یئ.

که په مولانا او بېدل پوه نه شئ، که په جامي پوه نه شئ، که په امیر علي شېر نوایي او خوشحال ختک بوه نه شئ، نو څه فکر کوئ چې د اوسنیو ابزارو او وسایلو په مرسته افراطیت سره مقابله کولای شئ؟

تاسې د تصوف یو ژور فرهنگ لرئ چې زښت ډېر معتدل دی. د عرفان او تصوف په دې خزانه کې انسانانو ته د عادلانه ژوند او افراطیت سره د مبارزې لپاره ډېر ځوابونه او ډېرې حل لارې پرتې دي. دا ټول له کتابونو را وباسئ او د فرهنگي وسایلو په توګه ترې ګټه واخلئ.

که له تاریخي پلوه که په خپل تېر وخت پوه شئ، نو د راتلونکي په اړه مو نظر بدلېږي. مور دغه تمدني نشر په بېلابېلو دورو کې لوبولای

---

[۱] Frederick Starr

دی. د بېلابېلو اړخونو او بُعدونو پېژندل یې تاسې ته پرېږدم، خو اړتیا د دې ده چې تاسې خپله یوه تاریخي طبقه بندي ولرئ او هغه په موډلونو بدله کړئ چې خلک پرې پوه شي.

یو بل ټکی چې تاسې ته متوجه دی، هغه دا دی چې د خپلو نسلونو تاریخ څنګه لیکئ؟ د افغانستان تاریخ د نسلونو له لیدلوري نه دی لیکل شوی، خصوصاً د شلمې پېړۍ تاریخ!

د افغانستان د شلمې پېړۍ تاریخي روایت له بده مرغه داسې و چې پېښې او وقایع ګډې وې، خو د نسلونو تجربې ګډې نه وې، بلکې د تقیسم او تفرقې لامل شوي دي. تېرو پنځو نسلونو ته مو وګورئ. که د افغانستان تاریخ د نسلونو له زاویې تحلیل کړئ، نو بیا د تشو او اومو شعارونو نه ښکار کېږئ. تاسې ان شاء الله دا فرصت لرئ چې د سراسر افغانستان یوه نسلي تجربه تمثیل کړئ. زما نسل هغه وروستی نسل و چې دغه تجربه یې نیمه درلوده، د تېرو اتلسو کالو په شمول چې له یوې خوا لوی فرصتونه میسر وو او له بلې خوا وینې او کش مکش هم و.

نو دا اړینه ده چې خپل تاریخ ته له نسلي لیدلوري وګورئ. هم باید په خپل تاریخ برلاسي شئ او هم باید د پخوانیو پېښو د تکرار مخه ونیسئ. یوازې په تاریخ د پوهېدو په صورت کې د بدو پېښو د تکرار مخه نیولای شئ، خو په عین حال کې تاریخ هم مه هېروئ، ځکه دا زموږ د هویت برخه ده.

(٦)

زمورِ سیاسي شتمني

ټولې شتمنۍ تولیدېږي. که د تولیدي سیستم په توګه ورته وګورئ، نو تاسې مصرفوونکي نه، تولیدوونکي یئ. اوس ستاسې خوښه چې څه تولیدوئ. داسې سیاسي شتمني تولیدوئ چې زمور ملي وحدت، اسلامي جمهوریت او تمدني ارتباطات په کې ژوندي شي او که هغه سیاسي شتمنۍ پسې ځئ چې زمور د نفاق او بېلتون لامل کېږي؟

یو انتخاب تاسې یئ ، دا موزیم درته دا فرصت درکوي چې له یوه ځایه باید کار پیل شي. موزیم د کار پیلولو یوه وسیله او پلمه ده. په تاسې نسل کې باید یو اساسي بحث را پیل شي او په یوه سیاسي شتمنۍ بدل شي. په څه معنی؟ آیا په دې خاوره کې دیکتاتوري حکومتونو، د میراثي نظامونو او تپل شویو نظامونو تجربو نتیجه ورکړې ده؟ آیا د جمهوریت له چوکاټ پرته، په بل سر یو بل سره زمور مساوات تأمینېدی شي؟ آیا له یوه انتخابي نظام پرته، په بل جوړښت کې زمور د زعامت موضوع حل کېدای شي؟

دا پوښتنې باید تاسې ځواب کړئ او د نندارتون او موزیم له لیدلوري باید دې ته وګورئ چې د دې هیواد د لومړي مقام (جمهوري ریاست) څوکۍ نیولو فکر ولې تل د شخړو او د افغانستان د بربادۍ لامل شوی دی؟ په افغانستان کې د ځای‌ناستي موضوع تر زرو کالو نه ده حل شوې. تل ورور د ورور، پلار د زوی او زوی د پلار په مقابل کې ولاړ دی. نو دا موضوع باید داسې تحلیل شي چې ځواب ترلاسه کړئ. او تاسې چې کومه سیاسي شتمني رامنځته کوئ، په هغه کې باید د

هیواد بقا وي. تر ټولو ډېره سیاسي شتمني درته څوک درکوي؟ د افغانستان خلک! په بدل کې یې درنه څه غواړي؟ یوازې یو شی: خدمت! آیا خدمات په داسې ډول وړاندې کېږي چې خلکو ته د منلو وړ وي؟

له تعلیمي پلوه تاسې د دې هیواد نخبه گان یئ، خو له سیاسي پلوه یې خدمتگاران یئ. که تاسې دا فرهنگ خپل کړئ چې نخبه‌گان یئ، نو هر یو باید زړې موټر او څلور منزله کور ولرئ. په دې ډول هیواد بربادی ته ځي. که تاسې د مساوات حس ونه لرئ او دا احساس ونه لرئ چې یو نسلي رسالت لرئ او باید پرځای یې کړئ، نو په دې پوه شئ چې برخلیک مو د خرابېدو خوا ته روان دی.

بنسټونه باید رامنځته شي. تاسې چې کوم میراث پرېږدئ، په هغه کې باید فعال بنسټونه وي. داسې بنسټونه چې له یوه نسل نه بل ته انتقال په اساسي ډول مدیریت کړي. یوویشتمه پېړۍ له اتلسمې او نولسمې سره توپیر لري. په اوسنۍ پېړۍ کې سیاسي شتمني له رهبرۍ او مدیریته رامنځته کېږي.

رهبري څه ده؟ رهبري پر ځان تمرکز نه، بلکې برنامه او د کار اصول او قواعد جوړول دي. موږ وسیله یوو، هدف نه یوو، هدف ولس دی، هدف د هیواد ثبات او سوکالي ده. نو مهمه دا ده چې دوامداره قواعد جوړ کړو او فردمحوري ونه کړو. هر ډول چې کېږي د شخصیت محوري د فرهنگ مخه باید ونیول شي. د اصولي راکړې ورکړې یو فرهنگ باید رامنځته شي. مشروع رقابت باید وهڅول شي او خصوصاً

د افغانو ښځو وړه بايد جدي وګڼل شي.

ښځې ادارو ته راغلې دي، خو ځوانان لا هم ښځې ځپي، ادارې اوس هم ښځې ځپي، فرهنګ نه دی بدل شوی. دغه فرصت ما د خپلو صلاحيتونو له لارې رامنځته کړی دی، خو که افغانې ښځې ته سياسي او ټولنيزه شتمني او مهمه وړه ور نه کړئ، نو زر کلن زيان به څنګه ډکوئ؟

د زر کلن زيان خبره مې وکړه، د ښاغلي مجيد زابلي کيسه رايادە شوه. د بحث په دې وروستيو کې به درته د مجيد زابلي کيسه وکړم. د هيواد ته چې ځومره ښې اقتصادي طرحې لرلي، ټولې د مجيد زابلي وې. له بده مرغه د هغه وخت او دربار د رونړ اندو شرايطو د هغه طرحې عملي کېدو ته پرې نه ښودې. د زيان ډکولو لپاره هغه ډېر ساده تحليل درلود. د غزني (مرکزي افغانستان) د اوبو لګولو سيستم علاءالدين له منځه يووړ. د افغانستان د شمال او شمال ختيځ سيستم چنګيز خان ويجاړ کړ او د سيستان، هلمند او فراه سيستم امير تيمور له منځه يووړ.

په تېرو اته سوو تر زرو کالو کې دغه ورانې بېرته نه دي راډک شوي. د کمال خان بند ان شاء الله زر بشپړېږي، دا به اته سوه کاله زيان راډک کړي، خو د افغانستان شمال او غزني لا پاتې دی.

تاسې ته ډېر لوی لوی کارونه پراته دي او دا کارونه لوی همت غواړي، په دې خاطر درسره وروستۍ خبره د انساني پانګې په اړه کوم.

انساني شتمني

هېڅ یوه شتمني تر هغې په درد نه خوري چې تاسې د دې وطن د یوه انسان په حیث او د دې خاورې د یوه ژمن وګړي په توګه خپل فکر او لمن دومره پراخه نه کړئ چې ټول افغانان په کې راونغاړئ. تر څو چې ستاسې لمن دومره پراخه نه شي چې یو افغان ترې بهر پاتې نه شي. تر څو چې ستاسې فکر دومره منسجم نه شي چې پر خپلو څلور میلیونه کډوالو فکر ونه کړئ چې په کومه بېچارګۍ کې دي، تر څو چې په هغو څلوېښت سلنه خلکو فکر ونه کړئ چې د فقر تر لیکې لاندې دي، تر څو چې په هغه دېرش سلنه خلکو فکر ونه کړئ چې د شپې نهر ویده کېږي او که د ورځې دوه وخته ډوډۍ وموميي خوشاله وي.

تاسې د فکر او کار کولو ټولو فرصتونه لرئ. زه په دې باور یم چې تاسې د افغانستان د معاصر تاریخ تر ټولو ستر نسل یئ، خدای ﷻ دې وکړي چې د دغه بحث د دې لامل شي چې تاسې خپل دغه رسالت په رښتیني ډول پوره کړئ.

مننه، پخیر اوسئ

پوښتنې او ځوابونه

بلال ذوالفقاري (کابل پوهنتون): *له ښاغلي جمهور رئیس نه زما پوښتنه دا ده چې مور ځنګه او په کوم میکانیزم داسې ملي هویت رامنځته کولای شوو چې د افغانستان ټول ورونه قومونه په کې ځان ګډ احساس کړي؟*

جمهور رئیس: ډېره مننه، مهمه پوښتنه ده!

یو: زمور اساسي ټکی د اساسي قانون تطبیق دی. د اسلام مقدس دین ارزښتونه په مطلق ډول زمور په اساسي قانون کې ځای شوي دي. تاسې یې سره پرتله کړئ. زمور اساسي قانون په قطعي ډول په نړۍ کې تر ټولو اساسي ترین اسلامی قانون دی. د دې قانون دویم څپرکی د اتباعو د حقونو په اړه دی او دا د بشري حقونو تر اعلامیې څو څو ځله ډېر د عملي کېدو وړ دی. ځکه د بشري حقونو اعلامیه اجرائیوي وسیله نه لري، خو اساسي قانون دولت مکلف کړی چې عملي یې کړي. زمور حقوق او وجایب زمور په اساسي قانون کې راغلي دي، نو لومړۍ خبره دا ده چې د دولت اوسنی شکل او جوړښت د اساسي قانون د تطبیق جوابګوی نه دی. په اداراتو کې د کار کولو میراث اوس هم د باداری میراث دی او مور باید د خدمت فرهنګ په اساسي ډول رامنځته کړو.

دویم: موږ د حکومتولۍ پنځه پړاوه لرو:

۱) کلی

۲) ولسوالي

۳) ښاروالي

٤) ولایت

٥) وزارت

له ولایاتو، ښاروالیو، ولسوالیو او کلیو سره د کابل د اړیکو بڼه ضعیفه ده. په اوس وخت کې باید زموږ تمرکز د محلي حکومتولۍ په جوړولو وي. د پلازمېنې په توګه، د افغانستان له هرې سیمې سره د کابل د اړیکو بڼه باید ځان ثابت کړي او د افغانستان د هرې سیمې د ستونزې په حل باید پوه شي. په همدې خاطر درته وایم چې تاسې باید د دې وطن د انساني شتمنۍ په توګه د افغانستان پېژندنې ظرفیت ولرئ. زه د افغانستان ډېرو سیمو کې په پښو، آس او لارۍ کې ګرځېدلی یم. په دې خاطر ګرځېدلی یم چې افغانستان لا ډېر وپېژنم. خو د افغانستان پېژندنې په برخه کې زما دویم درس له بهرنیو ځواکونو افغان ځواکونو ته د نظامي واک د لېږد په دوره کې و. په هغه دوره کې د افغانستان هر ولایت ته له څلورو تر لسو ځلو تللی یم.

د جمهوري ریاست په لومړۍ پنځه کلنه دوره کې مې ۸۹ ځله ولایتي سفرونه کړي دي. تر څو چې ستونزې پخپله له خلکو وا نه وړئ، حل

لارې ورته نه شئ پیدا کولای. د ستونزو پېژندلو او تشخیص لپاره باید خلکو ته غوږ کېښودل شي. باور هغه وخت رامنځته کېږي چې د حکومتداری عرضه او تقاضا یو بل سره اړیکه ولري او ان شاء الله ستاسې نسل په مرسته دا کار عملي کېدونکی دی.

پونښتنه: *نباغلی جمهور رئیس، تاسې مخکې د تېر، اوس او راتلونکي د روایت په اړه له محصلینو پونښتنه وکړه. تاسې د تېر تاریخ ډېر مثبت ټکي یاد کړل. زه فکر کوم چې اوس د ریفورم او بیارغونې وخت دی. تاسې چې غږېدئ، موږ په کې خپل راتلونکی ولید، دا هغه راتلونکی دی چې تاسې راته ساز کړی دی. د دې ټولو لپاره درنه مننه کوم، که په همدې سیستم مخ ته لاړ شو، زموږ راتلونکی به هم ډېر نبایسته وي.*

زه فکر کوم چې په ټول هیواد کې د افغانستان د تاریخي ودانیو په بیارغونو ځینې نیوکې شته، سره د دې چې دا ډېر مثبت کار دی. ځکه دا ودانۍ زموږ د ملي هویت برخه او ملي شتمني ده، نو د دې نیوکو سره به بیا هم د بیارغونې دغه لړې همداسې روانه وي، که د نیوکو له امله به ورو شي؟

جمهور رئیس: لومړی له تاسې ډېره مننه!

زموږ ټولنه آزاده ټولنه ده او په آزاده ټولنه کې هر ډول بحث مطرح کېدای شي، پر موږ چې کومې نیوکې کېږي، موږ یې په سر سترګو منو. اوس تاسې پخپله له ځانه دا پوښتنه وکړئ چې پخوا به هغه خوا ته تللئ او د دارالامان مانۍ کنډر به مو لیده چې ورځ په ورځ نور هم

ورانېده، نو څه احساس مو کاوه؟ د کمترۍ احساس مو کاوه؟ د عقدې احساس مو کاوه؟ که په دې مو ویاړ کاوه چې یوه کنډر ته مخامخ ولاړ یئ؟

لومړی: د دارالامان مانۍ په رغوونې له نهه میلیونه ډالرو لږ لګښت راغلی دی. مورږ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وارزوه، کوم دیپلوماتان چې اړین نه دي، یوازې د هغو په کمولو هر کال ۱۵ میلیونه ډالر سپمولای شو، دا په دې معنی ده چې په یوه پنځه کلنه دوره کې یوازې د دې دیپلوماتانو معاش ۷۵ میلیونه ډالر کېده.

دویم: په دوه پوړو کې ملي موزیم او درېیم پوړ کې داسې ځای چې د افغانستان لوړرتبه مېلمانه په کې ووسپړي او له بلې خوا د دارالامان په اړه د غازي امان الله خان لرلید هم پوره کړی شي، آیا دا ټول شیان په ۹ میلیونه ډالره پانګونې نه ارزي؟

د لګښت بل مثال وګورئ. زه چې د مالیې وزیر وم، حلقوي سرک مې یو کیلومتر په دوه سوه زره ډالر نه قبلاوه، محاسبه به مو کوله چې تر یوسل او اتیا زره یې راښکته کړو، خو تاسې ولیدل چې وروسته د یوه کیلومتر حلقوي سرک بیه یو میلیون ډالرو ته لوړه شوه کنه؟

د عیدګاه جومات نن د کابل د خلکو لپاره د ویاړ ځای دی که نه؟ دا به ښه وای چې د افغانستان یو تاریخي جومات همداسې وران وېجاړ پروت وای؟

نو عرض مې دا دی چې که د لګښتونو په شفافیت کې ستونزه وه، مورږ

یې په اړه نیوکې زر ځله منو، که بیارغونه او د کار په بڼه کې کومه ستونزه وي، زمونږ دروازې د خلکو نیوکو ته پرانیستې دي؛ البته که په داسې حال چې تاریخي هویت مو د لوټ کېدو په حال کې دی، که په دې وخت کې تاسې په خپل تاریخ پانګونه نه کوئ، نو دا پرېکړه باید ملت پخپله وکړي.

زه په دې باور یم چې د هیواد د تاریخي ودانیو بیارغونې ملي پروګرام به له یوې خوا د دې ودانیو د بیارغونې لامل شي او له بلې خوا به هیواد ته عایداتي سرچینه هم شي. پغمان په درېیو کالو کې خپل ټول لګښت بېرته پوره کوي. جبل السراج یې په څلورو کالو کې پوره کوي. ان شاء الله ډېر زر به دا فرصت رامنځته شي چې دغه ځایونه د سیالانیانو د تګ راتګ ځایونه شي، ځکه دا تاریخي ځایونه یوازې د لګښت لپاره نه دي. اړینه ده چې دا هره ودانۍ د یوه بنسټ په توګه د اُمنا پلاوي له لوري په مستقل ډول مدیریت شي او خلک یې پایلې وګوري. مورږ که په پغمان کې بالاباغ نه وی ساز کړی، نن به خلک د تفریح لپاره نه ورتللی. دا کار لومړی له سل جریبه ځمکې پیل شو او اوس یو نیم زر جریبو ته رسېدلی چې د افغانستان راتلونکی نسل د تفریح ځای ولري. دا پارک له دېرش تر پنځه دېرش زره تنو د ځایدو ګنجایش لري. ان شاء الله د سپرلي په لومړیو کې به یې بیاځلی دروازه خلکو ته پرانیسل شي.

دلته یوولس مانۍ ورغېدې او ټول لګښت یې دوه میلیونه ډالر دی. خلک دې پخپله یوه نتیجه ګیري وکړي، نظرونه دې واخلي، بحث دې

وکړي. خو زه د افغانستان د تاریخ د یوه شاګرد په توګه په دې نظر یم چې مور د خپل ملي هویت پېژندلو ته اړتیا لرو.

درېیم: زه له یوې خوا د ګرځندوی (تورېزم) او له بې خوا د چاپېریال راتلونکی سنجوم. خصوصاً د کارموندنې اړخ یې ډېر مهم دی. په پغمان کې د بیارغونې کار اوه سوه تنو ته دوه کاله دوامداره کار پیدا کړ. که مور وغواړو چې د افغانستان په هره ولسوالۍ کې یو پارک ولرو او ځنګلونه بېرته ورغوو، نو د دې کار پایلې په هر اړخ ډول لیدلای شو.

